ليکوال: نجيب منلی

نيټه 24/10/2010

# د کرزي نوی جنګ

**د ټولو خصوصي کمپنيو د فعاليت درول داسې يو اقدام دی چې د ډېر لوړ عزم تر څنګ د ګواښ او فشار د زغم ډېر عالي ظرفيت هم غواړي. د ولسمشر تصميم د خصوصي امنيتي کمپنيو په اړه، په اصولو کې ډېر ګټور تصميم دی.**

څه موده وړاندې ولسمشر کرزي افغانان او نړېوال د خصوصي امنيتي کمپنيو په اړه د يوه غير مترقبه فرمان په ناڅاپي اعلان حيران کړل. د څلورو مياشتو په ترڅ کې د ټولو خصوصي کمپنيو د فعاليت درول داسې يو اقدام دی چې د ډېر لوړ عزم تر څنګ د ګواښ او فشار د زغم ډېر عالي ظرفيت هم غواړي.
دا معلومه نه ده چې ولسمشر به د خپل تصميم د اعلان پر مهال د مسلې ټول اړخونه په دقت سره ارزولي وي که نه، خو د ولسمشر دغه فرمان په افغانستان کې يو پېچلې حالت را منځ ته کړی دی چې نه يواځې د افغانستان حکومت يې له سترو ننګونو سره مخ کړی بلکې د نړېوالې ټولنې له پاره هم په کې د اندېښنو پراخه ډګر پرانستی دی. په لومړي سر کې ډېری کتونکو داسې وانګېرله چې د ولسمشر دا اقدام به هم د هغه د تېرو تصميمونو په څېر (لکه د موټرو تورې ښيښې يا د واټونو پر سر امنيتي موانع) هسې يوه خبره وي چې په دوو دريو اونيو کې به هېره شي ځکه خو نړېوالو په ظاهره ترې ملاتړ وکړ. خو د ولسمشر پرله پسې ټينګار اوس ځينې کړی په دې باوري کړې دي چې ولسمشر په خپل تصميم ولاړ دی. بهرنيو سياسي نماينده ګيو ته چې کوم امتياز ورکړ شو، بهرنيو مرستندويو ادارو ته يې دا هيله پيدا کړه چې ګواکې هغوی ته به هم يو څه امتياز ورکړل شي. د باخبرو سرچينو په وينا د دغو ادارو دا هيله ورو ورو په ناهيلی بدلېږي.
د افغانستان پر حکومت د فشار اچولو په موخه ګڼې نړېوالې موسسې ګواښ کوي چې که ولسمشر خپل تصميم بدل نه کړي په افغانستان کې به خپل پراختيايي پروګرامونه ودروي. سياسي فشارونه هم د ولسمشر په خپله وينا ډېر شديد دي.
د ولمشر پرېکړې چې کوم منافع متضرر کړي دي داسې په اسانه خپله سوبه نه پرېږدي او د ډول ډول ګواښونو، ډارونو، منفي تبليغاتو، دسيسو او فشارونو له لارې به يې د مخنيوي يا د شنډولو هڅه وکړي. په ډېر احتمال که ولسمشر سياسي او اقتصادي فشارونو ته ټينګ شو همدغه کمپنۍ چې د امنيت په نامه په ميلياردونو پيسې خپلوي کولای شي چې د ولسمشر د تصميم د ناسموالي د اثبات له پاره په لوی لاس ګڼې امنيتي ستونزې هم را منځ ته کړي، د امنيتي ځواکونو وړتيا هم تر پوښتنې لاندې راولي، د حکومت اعتبار هم خراب کړي او بالاخره په داخل کې داسې يو حالت ايجاد کړي چې سمبالول يې کلک سياسي هوډ او د حکومتي کړيو يو موټی والی غواړي.
د ولسمشر تصميم په اصولو کې ډېر ګټور تصميم دی. د ملي امنيتي ځواکونو وړتياوو ته که وکتل شي د څلورمياشتو ضرب الاجل ډېر واقعبين او منطقي نه برېښي او د خصوصي امنيتي کمپنيو زور ته هم په کمه سترګه کتل شوي دي.
خو تر ټولو مهمه دا ده چې په دې لوبې کې ولسمشر خپل اعتبار په خطر کې اچولی دی. که ګواښونو او فشارونو ته تسليمېږي نو بيا د هېواد په اوسنۍ سياسي فضا کې چې له مخالفينو سره د خبرو موضوع د حکومت د کاري اجنډا په سر کې ده، د سياسي ځانوژنې حيثيت لري او که مقاومت کوي نو بايد چې خپل اعصاب د پولادو کړي. نه يوازې دا چې د بهرنيو موسسو د پراختيايي کارونو درېدلو ته وارخطا نه شي بلکې که د دغې پرېکړې د لنډمهالې پايلې په صفت په هېواد کې د نا امنيو کچه لوړه هم شي ولسمشر بايد په پوره متانت د ولس په مخ کې واقعيتونه لکه چې دي بيان کړي او د قربانيو کچه روښانه کړي.
دا ځل ولسمشر له بهرنيانو سره پسته غبږ نه ده نيولې، خو په دې مقابله کې يوازې هم نه دی. که ښاغلی کرزی ريښتيا هم په خپل ولس او د خپلو هېوادوالو پر افغاني غرور تکيه وکړي، ځان ته – د تل په څېر – له «بو» نه «ببو» جوړ نه کړي، د خپل چاپېريال تسليم طلبه تمايل مهار کړي نو پرته له شکه چې يو ستر بری به يې په برخه شي./پای/

کاپی ایدیت/نشر: فیضی
faizi@afghan-german.de



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ